**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر
۲۰۲۳/۰۳/۱۱

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل

## د پاکستان رول

## (نهمه برخه)




**جنرال مشرف او د بې نظیر بوټو وژل**

سره له دې چې د پاکستان ټول ولسمشران او جنرالان له محمد علي جناح، لیاقت علي او پښتون محمد ایوب خان څخه نیولې تر نن پورې له افغانستان سره په دښمنۍ دي چې له هغو څخه د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بوټو هم خپله دښمني څرګنده کړې ده، د هغه په واکمنۍ کې د افغانستان خلاف یو شمېر افغان یاغیان لکه برهان الدین رباني، ګلبدین حکمتیار، احمد شاه مسعود او نور افراطیان د اسلام د ټېکه دارانو په نوم د افغان حکومت پر خلاف وسله وال کړل او په افغانستان کې یې تر یو ځایه تخریبي کړنې ترسره کړې. ذوالفقار علي بوټو د پاکستان پوځي دیکتاتو جنرال ضیاء الحق لخوا اعدام شو او ځان یې د پاکستان واکمن اعلان کړ. جنرال ضیاء (چې ځینو افغانانو ضیاءالباطل باله) او نورو پاکستانیو جنرالانو د بوټو له کورنۍ سره سخت ناوړه او ظلمانه چلند وکړ، د نوموړي د کورنۍ غړي یې ووژل، په کلونو، کلونو یې بندیان، نظر بند، او تبعید کړل. جنرال ضیاء او نورو جنرالانو د ذوالفقار علي بوټو لور بې نظیر بوټو پنځه کال بندي او اته کاله یې تبعید کړې وه. د جنرال ضیاء د ډلې له خوا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د بې نظيرې دوه ورونه، مرتضی بوټو او شهنواز بوټو هم ترور شول، د بوټو کورنۍ د سيمې داسې يوه سياسي کورنۍ ده چې تر ټولو ډېر غړي يې په بېلابېلو وختونو کې د پاکستان د پوځيانو لخوا ترور شوي دي.
بې نظير بوټو د خپلې کورنۍ د ظلمونو د غچ اخيستلو له پاکستانيو جنرالانو څخه، د دموکراسۍ په پلي کولو کې ليده:«له جنرالانو څخه تر ټولو ښه انتقام د دموکراسۍ پلي کول دي.» (بی نظير بوتو دختر شرق: خاطرات بی نظير بوتو . ترجمۀ دری: علی رضا عياری ۱۳مخ)
بې نظير بوټو چې دوه ځله د پاکستان صدراعظمه ټاکل شوې وه، د اسلام په تاريخ کې لومړنۍ ښځينه صدراعظمه بلل کيږي. بې نظير بوټو د شرق د لور په نوم هم يادېږي، هغه يوه زړوره او زړه سوانده او مهربانه ميرمن وه، هغې ويل چې له ماشومتوبه مې له وينو توييولو کرکه درلودله، يوه ورځ زموږ د کور تر څنګ باغ ته ولاړم ومې ليدل چې پلار مې زما وورو ته ښکار کول ورزده کوي چې په يو ډز يې يو طوطي وويشت او لاندې په خپلو وينو کې لت پت راپرېوت نو هغه ته مې وژړل. (آزادی راډيو: ۱۳۸۶/۷/۲۸ل. ل)
په ۲۰۰۷ز، کال د اکتوبر په ۱۹مه نېټه چې کله بې نظير بوټو له بهره د ولسمشرې د ټاکنو په موخه د کراچۍ د هوايي ډګر له لارې پاکستان ته راغله، په سلګونو زره وګړي د هغې د ښه راغلاست لپاره هوايي ډګر ته راټول شوي وو خو د سختو امنيتي تدابيرو سره، سره د کراچۍ په ښار کې دوو چاودنو په لنډ واټن کې چاودنې وکړې چې له امله يې لږترلږه ۱۳۰ تنه ووژل او په لسګونه کسان يې ژوبل کړل، په چاودنو کې بې نظيرې ته زيان ونه رسيده خو د هغې د سپرلۍ د ګاډي پنجره او دروازه زيانمنې شوې. (بی نظير بوتو دختر شرق: ... ۱۳مخ)
جنرال مشرف چې د پاکستان يو کودتاچي ولسمشر او د پوځ اعلی سر قوماندان او د جنرال ضياء په څېر د بې نظيرې د سر دښمن ؤ، د ۲۰۰۷ز، کال د ټاکنو پر مهال مشرف بې نظير بوټو له بېلابېلو لارو وډاره کړه چې ګوندې له ټاکنو لاس واخلي.
د ۲۰۰۷ز، کال د دسمبر پر ۲۶مه شپه بې نظير بوټو له يوه اوږده سفره د پلازمېنې اسلام آباد، زرداري هاوس نومې کور ته په داسې حال کې ورسېده چې د پاکستان د استخباراتي ادارې (آی، ايس، آی) مشر جنرال نديم تاج د يوه مهم کار لپاره د ليدو غوښتنه کړې وه.
د (آی، ايس، آی) مشر د خپلو مالوماتو پر بنسټ بې نظيرې ته وويل چې د ورځې په اوږدو کې يې د وژنې خطر شته.
د جنرال تاج د خبرو له اورېدو وروسته بې نظير بوټو ګومان وکړ چې ښايي پوځيان نه غواړي خپل سبانۍ پروګرام تر سره کړي، ځکه يې له هغه وپوښتل: که د ځانمرګو بريدګرو مالومات لري نو ولې يې نه نيسي؟ جنرال تاج ځواب ورکړ، دا شونې نه ده، ځکه د وسايلو راز يې افشا کيږي.
بې نظير له هغه غوښتې وو چې د دې او پلويانو د امنيت لپاره نور ګامونه واخلي او جنرال تاج ورسره ژمنه کړې وه چې همداسې به کوي.
د (ای، ايس، ای) مشر جنرال نديم له څرګندونو داسې ښکاري چې هغه دوه موخې درلولې په لومړي ګام کې ای، ايس، ای دا پلان درلود چې بې نظيره ووېروي او له خپلو ټاکنيزو هلو ځلو يې لاس په سر کړي او برياليتوب ترلاسه نه کړي. دويم پلان داسې ؤ، که بې نظير بوټو خپلو ټاکنيزو مبارزو ته دوام ورکړي بايد ووژل شي.
بې نظيره چې يوه زړوره ميرمن وه، د پاکستانيو جنرالانو له ګواښونو ونه وېرېده، نو د هغې د وژلو لپاره په موخه يې دويم پلان پلی کړ تر څو په راتونکو ټاکنو کې چې د بې نظير بوټو برې له وړايه ښکارېده بې برخې شي.
د کراچۍ د چاودنې په هکله بې نظير بوټو وويل:«د کراچۍ په چاودنه کې ما ته يو ماشوم راوړاندې کړای شو کله چې ما هغه ماشوم وانه خيست نو د پوليسو په منځ کې يې چاودنه وکړه، په هغه ماشوم پورې يې چاوديدونکي توکي تړلي وو ... .» (آزادی راډيو: ۱۳۸۶/۸/۱۹ل. ل)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په بې نظیر بوټو باندې د کراچۍ په ترهګریز برید کې د بوټو د پیپلز ګوند ۵۰ تنه غړي او ساتونکي هم ووژل شول، بې نظیره وایي چې زه پوهیدم چې په ما به تروروستي برید کیږي ځکه مې د خپل ګوند مشرانو ته وویل چې له ما سره دې نږدې نه وي، بې نظیرې وویل:«زه له دولت څخه دا پوښتنه کوم چې ولې په لویه لاره کې یې چراغونه مړه کړي وو او هغه سرک چې زه پرې تېریدم تیاره وه؟»
له بې نظیرې سره جنرال مشرف مرسته نه کوله هغه پوهیده چې نوموړې به واک ته رسیږي له دې امله مشرف او نورو مخالفینو کوښښ وکړ چې هغه له منځه یوسي، مشرف او ځایي امنیتي مسؤلینو له آره د هغې د وژلو پلانونه جوړ کړي وو، د بې نظیرې امنیتي کسانو شکایت وکړ چې د چاویدونکو توکو د لټولو وسایل چې د حکومت له خوا ورکړل شوي دي سم کار نه کوي. (امریکا غږ:۱۰/۷/۱۳۸۶ل. ل)
بې نظیر بوټو د جنرال ضیاء ځیني پلویان د کراچۍ په برید تورن کړل، ډېر سیاسي څارونکي په دې نظر دي چې د پاکستان د (آی، ایس، آی) اداره په دې برید کې لاس لري. اعجاز الحق د ضیاالحق زوی، د جنرال مشرف د اوقافو وزیر، وروسته له هغې چې په کراچۍ کې پر بې نظیر بوټو برید وشو نو د بې نظیرې پلویانو هغه په دې برید تورن کړ، اعجاز وویل چې زما پلار هم د ترهګرۍ قرباني دی چې د (ذوالفقار) ډلې له خوا یې پلار وژل شوی دی چې نوموړې ډله په بوټو پورې تړلې ده... . (آزادي راډیو:۳۰/۷/۱۳۸۶ل. ل)
ځینو کړیو د دې لپاره چې د چاودنې مخ له اصلي مسؤلو کسانو بلې خوا واړوي د کراچۍ د چاودنې عاملین یې (تي، تي، پي) وبلل خو د نوموړې تحریک مشر بیت الله مسید د کراچۍ برید رد کړ.
بې نظیر بوټو د پاکستان د استخباراتو تر ټولو ښه ترهګر او غلام ګلبدین یادونه هم کوي وایي چې یو لیک مې تر لاسه کړ چې ظاهراً د قطب الدین [ګلبدین] حکمتیار د افغان مجاهدینو د مشر له خوا لیکل شوی ؤ چې خپلو کسانو ته یې ویلي وو چې بې نظیر بوټو له منځ یوسئ. حکمتیار د پاکستان له اطلاعاتي سازمان سره نږدې اړیکي درلودلې او حتماً د دغه سازمان په غوښتنه زما د ترور امر ورکړای شوی ؤ. (بی نظیر بوتو دختر شرق ، ۲ ۵۰مخ)
د دسمبر پر ۲۷مه بې نظیر بوټو... د خپل ګوند پاکستان پیپلز پارټۍ له مخکیني سناتور مخدوم امین فهیم سره یو ځای د افغان ولسمشر حامد کرزي لیدو ته ورغلي وه. ښاغلی کرزی د اسلام آباد د سرینا هوټل په څلورم پوړ کې ؤ او بې نظیر د هغه له لیدو وروسته یوه نیمه بجه خپل کور ته ستنه شوه، له ډوډۍ وروسته یې د ملګرو په مشوره د ماښامنۍ غونډې لپاره خپلې وینا ته وروستی ښه ورکړه.
بې نظیره د راولپینډۍ د لیاقت باغ پارک ته په (۳:۱۶) بجو غونډې ته ورسیده، پولیسو د دروازې کیلی نه درلودې چې له همدې کبله د بې نظیرې د سپرلۍ موټر له (۳ تر ۵) دقیقو پورې د دروازې مخې ته ولاړ پاتې شو، بې نظیره دا وخت د خوندیتوب له هر ډول احتیاط پرته په خپل موټر کې ولاړه وه او څېره یې د ګاډي له چته بهر ښکاریده.
دا مهال بلال نومی ځانمرګی چې له سهاره یې انتظار کاوه، پوه شو چې همدا وخت دی، لومړی د بې نظیرې د موټر مخې ته ورغی، بیا یې څنګ ته ورغی، چې هلته خلک لږ وو، تونپچه یې راوایسته او د بې نظیر بوټو سر ته یې ونیوه. یوه ساتونکي د بلال د برید د مخنیوي هڅه وکړه، خو هغه لیرې ؤ، یوازې څنګل ته یې لاس رسیدلی ؤ، بلال له یوې ثانیې هم په لږ وخت کې درې مرمۍ وویشتې، د دریمې مرمۍ له ویشتل کېدو وروسته بې نظیر د خپل موټر په څوکۍ کې ځای پر ځای ړنګه شوه او د هغې له ړنګېدو سره سم بلال په ځان پورې تړلې باروت هم وچوول.
د چاودنې له کبله د بې نظیر د سپرلۍ ګاډي ټایرونه چاودیدلي وو او هلته نږدې هیڅ یو امبولانس نه ؤ.
چلوونکي یې د بې ربړ ټایرونو پر مټ نږدې ۳۰۰ متره ګاډی په همدې حالت کې څغلولی ؤ.
د بې نظیر بوټو سیاسي سکرترې ناهید خان وویل چې پرته له دې چې بې نظیر په تیکسي کې روغتون ته ورسوو بله لار نه لرو. دوه یا درې دقیقې وروسته یو جیپ موټر راغی او موږ بې نظیره په همدې جیپ کې روغتون ته ورسوله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

وروسته مالومه شوه چې دا جيپ د بې نظيرې د وياندې، شيري رحمان ؤ. اسناد ښيي چې دوی ټول له پېښې څخه ۳۴ دقيقې وروسته روغتون ته رسېدلي وو. (د ريحان فضل لکنه: بي بي سي هندي ډيلی)
په دغه ترهګر بريد کې بې نظير بوټو په سر او غاړه دوه مرمۍ لګيدلي وه، وړاندې له هغې چې روغتون ته ورسيږي د شهادت مقام ته ورسيده.
د راولپینډی د لياقت باغ سيمې په بريد کې ۲۳ نور کسان ووژل شول او شاوخوا ۷۰ تنه ټپيان شوي وو. (بي، بي، سي: ۳۰ وږی ۱۳۹۶ - ۲۱ سپتمبر ۲۰۱۷)
ولسمشر کرزي د بې نظير بوټو پر شهادت سخته خواشيني څرګنده کړه، موږ پر ټلويزيون وليدل چې د ولسمشر سترګې سرې او ژړلي يې وو، ولسمشر بې نظير بوټو د اسلام او پاکستان زړوره لور وبلله ويې ويل:«زموږ خور شهيده شوه.» لکه وړاندې چې وويل شول، ده د همدې ورځې پر سهار له بې نظيرې سره په اسلام آباد کې ليدلي وو. حامد کرزي د بې نظيرې د شهادت له امله په افغانستان او د نړۍ په ټولو افغان سفارتونو او نماينده ګيو کې ملي بيرغ د ۲۴ ساعتونو لپاره نيم ځوړند اعلان کړ.
جنرال مشرف هم د ځان ښودنې په موخه د بې نظيرې د وژل کيدو له کبله درې ورځې ملي ماتم اعلان کړ:

**هم مې ووژنې په خپله، هم په ما باندې ژړا کا**
**څه ښه يار دی ښه يې مينه، وژل هسې شيون هسې**
(خوشال بابا)



(بې نظير بوټو د وژنې په وير کې)
نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ